# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**10 سنبله_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


| عنوان | صفحه |
|---|---|
| د دایکندي د مهاجرینو چارو آمر د مهاجرینو چارو وزیر سره وکتل | 1 |
| شماری از دوکتوران یک مرکز صحی با معین مسلکی وزارت امور مهاجرین دیدار کردند | 1 |
| پکتیکا کي له سلګونو کورنیو سره مرسته وشوه | 1 |
| صدها خانواده در ولایت ننگرهار مساعدت شد | 2 |
| د ښار او کور جوړونې وزارت مرستیال د غزني ولایت له مهاجرینو سره وکتل | 3 |
| آلمان ۲۸ شهروند افغان را اخراج کرد | 4 |
| دوو ورځو کي له ۱۱۳۰ څخه زیات کډوال برېتانیا ته اوښتي دي | 5 |
| اژه سمندر کي د یو کډوال مړینه: دوه ترکان د انساني قاچاق په تور نیول شوي دي | 7 |
| آلمان: رویکرد جدید امنیتی پس از حمله زولینگن و محدودیت های جدید برای پناهجویان | 9 |


9

# متن کامل اخبار

## د دایکندي د مهاجرینو چارو آمر د مهاجرینو چارو وزیر سره وکتل

د وزارت ویب سایت

**د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو له وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د دایکندي ولایت د مهاجرینو چارو آمر مولوي محب الله اخوندزاده سره د خپل کار په دفتر کې وکتل.**

**په دې کتنه کې په دغه ولایت کې د مهاجرینو لپاره د اسانتیاوو د رامنځته کولو او ستونزو په اړه خبرې وشوې.**

**ښاغلي اخوندزاده د وزارت له سرپرست وزیر حقاني سره د دې ادارې د فعالیتونو او د چارو د ښه والي لپاره ستونزې شریکې کړې او ورته د رسېدنې غوښتنه یې وکړه.**

**د مهاجرینو چارو وزیر د دایکندي د مهاجرینو چارو آمر ته د دغو ستونزو ته د رسېدنې ډاډ ورکړ.**

## شماری از دوکتوران یک مرکز صحی با معین مسلکی وزارت امور مهاجرین دیدار کردند

ویب سایت وزارت

**شماری از دوکتوران مرکز صحی صوفیا در کابل با الحاج مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کنندهگان دیدار کردند.**

**در این دیدار آنان از بلند بردن کیفیت خدمات صحی صحبت نمودند و محترم راشد بر تقویت سیستم صحی، معیاری سازی و بهبود خدمات صحی تاکید ورزید.**

## پکتیکا کې له سلګونو کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت

خبرنامه



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




**په پکتیکا ولایت کې پرون د وړې اومه پر ۶۰۰ راستنېدونکو او بې ځایه شویو کورنیو روغتیایي کڅوړې ووېشل شوې.**

**دا مرسته د کپو موسسې له لوري شوې وه، چې هرې کورنۍ ته د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ادارې تر پېژندلو وروسته ورکړل شوه.**

**دغه راز د مسولینو له خوا د دغو کڅوړو د کارولو په اړه عامه پوهاوی هم ورکړل شو. ترلاسه کوونکو کورنیو له دې مرستې خوښي څرګنده کړه او زیاته یې کړه چې دغه روغتیایي کڅوړې ستونزې کموي او د روغتیا او پاکوالي په برخه کې اړینې دي.**

## صدها خانواده در ولایت ننگرهار مساعدت شد

ویب سایت وزارت



**برا ی ۷۰۳ خانواده برگشت کننده، بیجاشده، معیوب، معلول، خانم های بیوه، بی سرپرست و بی بضاعت در ولایت ننگرهار، کمک خوراکی و نقدی به تاریخ ۷ سنبله توزیع شد.**

**خانواده های متذکره قبلاً درنواحی شهر جلال آباد و ولسوالی مومند دره شناسایی شده بودند.**

**کمک متذکره برای ۶۰۰ خانواده ۶ قلم مواد خوراکی همراه با یک هزار و ۵۰۰ افغانی کمک نقدی جهت انتقال آن کمک موسسه AAR JAPAN ، برای ۲۰ خانواده در پنج بخش مبلغ ۲۰ هزار افغانی، ۱۰ هزار افغانی، ۸ هزار افغانی، ۳۰ هزار و ۶۰۰ و ۳۰ هزار افغانی از جانب سازمان بین المللی مهاجرت و برای ۸۳ خانواده بیجاشده در ولسوالی مومند دره مبلغ ۱۰ هزارو ۸۰۰ افغانی کمک شورای مهاجرت دنمارک بود که با نظارت اداره امور مهاجرین توزیع شد.**

## د ښار او کور جوړوني وزارت مرستیال د غزني ولایت له مهاجرینو سره وکتل

د وزارت ویب سایت



**د غزنی ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د معلوماتو له مخې، د ښار او کور جوړونې وزارت مرستیال شیخ مدبر علی بامیانی د وړي پر اومه د غزني ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو رییس مولوی مطیع الله عرب سره وکتل .**

**په دې کتنه کې د غزني ولایت د ۲ نمبر مهاجرینو د ښارګوټي د جغرافیایي موقعیت، د لومړۍ برخې د توپوګرافیکي سروې د بشپړیدو او د دویمې برخې د توپوګرافیکي سروې د پیل د څرنګوالي په اړه بحث او خبرې وشوې .**

**د ښار او کور جوړونې وزارت مرستیال ژمنه وکړه، چې ډېر ژر به د دغه وزارت تخنیکي ټیم د توپوګرافیکي سروې په موخه غزني ولایت ته لاړ شي او د پاتې ۲ نمبر ښارګوټي د سروې چارې به بشپړې کړي.**

## آلمان ۲۸ شهروند افغان را اخراج کرد

آریانانیوز

**طبق گزارش، آلمان چندین ماه در این باره مذاکرات مخفی با قطر انجام داده بود.**




گزارش‌ها می‌رسانند که آلمان روند اخراج شهروندان افغانستان را که مجرم شناخته اند، آغاز کرده است و در اولین مورد، ۲۸ تن طی یک پرواز روز جمعه به کابل فرستاده شدند.

رویترز به نقل از مجله اشپیگل آلمان گزارش داده است که طیاره حامل ۲۸ شهروند افغان اوایل روز جمعه از شهر لایپزیگ آلمان به مقصد کابل پرواز کرد.

طبق گزارش، آلمان چندین ماه در این باره مذاکرات مخفی با قطر انجام داده بود.

حکومت آلمان در بیانیه‌ای از «شرکای منطقه‌ای کلیدی» خود برای همکاری شان سپاسگزاری کرده و گفته است که افراد بیشتری اخراج خواهند شد.

برلین بازگرداندن افغان‌ها را به کشور شان پس از روی کار آمدن امارت اسلامی در سال ۲۰۲۱ متوقف کرده بود.

اما پس از کشته شدن یک سرباز پولیس توسط یک شهروند افغان در ماه جون، حکومت آلمان اعلام کرد که اخراج مهاجران افغان را که تهدید امنیتی ایجاد می‌نمایند، بررسی می‌کند.

## دوو ورځو کې له ۱۱۳۰ څخه زیات کډوال بریټانیا ته اوښتي دي

مهاجرنیوز




**د برېټانیا د کورنیو چارو وزارت د رسمي شمېرو له مخې، له ۱۱۳۰ څخه زیاتو کډوالو د سه شنبې او چهارشنبې په ورځو د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېټانوي سواحلو ته رسولي دي .**

**د برېټانیا کورنیو چارو وزارت وایي چې پرون چهارشنبه د اګست ۲۸مه ۶۱۴ کډوالو د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېټانیا ته رسولي دي. دغه کډوال په لسو کښتیو کې سپاره ول.**

**یاد وزارت زیاتوي چې د سه شنبې په ورځ، د اګست په ۲۷مه، ۵۲۵ تنه نور چې په ۸ کښتیو کې سپاره ول د اوبو له لارې برېټانوي سواحلو ته په رسېدو بریالي شوي دي.**

**دا د اګست له ۱۹مې راهیسې د کډوالو لومړۍ ډله ده چې د سمندر له لارې برېټانیا ته واوړي. د کورنیو چارو وزارت د شمېرو له مخې، د اګست په ۱۹مه تر ۲۰۰ زیات کډوال په دې بریالي شوي وو چې په کوچنیو کښتیو کې ځانونه برېټانیا ته ورسوي.**

**سږ کال د کډوالو تر ټوله لویه ډله (۷۰۳ تنه) د اګست په ۱۱مه برېټانیا ته رسېدلې وه.**

**د روان کال له پیل څخه تر دې دمه ۲۰۴۳۳ کډوال د اوبو له لارې برېټانوي سواحلو ته اوښتي دي. دغه رقم د تېر کال په پرتله ۰،۱ سلنه (۱۹۸۰۱) ډېروالی او د ۲۰۲۲ په پرتله ۲۱ سلنه (۲۵۰۶۵) کموالی ښیي.**

**بي بي سي د کورنیو چارو وزارت د ویاند له قوله لیکلي دي: «موږ ټول غواړو چې خطرناکو وړو کښتیو کې سفرونه پای ته ورسېږي، کوم چې د پولې امنیت تر پوښتنې لاندې راولي او [د خلکو] ژوند په خطر کې اچوي«.**

دا هم ولولئ
<u>په یوه ورځ له ۲۰۰ ډېر کډوال په کښتیو کې بریتانیا ته رسیدلي</u>

د اخراجونو ډېرول

له تېرو څو کلونو راهیسې برېتانیا هڅه کوي چې د انګلیس کانال له لارې دغه هېواد ته د اوښتونکو کډوالو مخه ونیسي، خو هڅو یې پایله نه لرله. د برېتانیا پخواني حکومت پلان درلود چې په روان اوړي کې روندا ته د کډوالو د استولو پروسه پیل کړي، خو لومړي وزیر کیېر دغه پلان «مړ او خښ شوی» وباله او <u>لغوه یې کړ</u>.

نوموړي ټاکنو کې له بریالي کېدو وروسته ژمنه وکړه چې له قاچاق وړونکو سره د مبارزې لپاره له هغو امکاناتو کار واخلي چې له ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره ترې کار اخیستل کېږي. هغه دا هم وویل چې د نامنظمې کډوالۍ د مخنیوي لپاره به له اروپا او په ځانګړې توګه له فرانسې سره همکاري زیاته او لا پیاوړې کړي .

څو ورځې مخکې د بریتانیا د کورنیو چارو وزیر یویت کوپر اعلان وکړ په پام کې لري چې د اخراج شویو کډوالو شمېر د ۲۰۱۸ کال په اندازه ډېر کړي. نوموړې خپل هدف ته د رسېدو لپاره د کورنیو چارو وزارت د کارکوونکو شمیر د بیا زیاتولو ژمنه وکړه.

د کورنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، واک ته د کارګر ګوند له رسېدو سره یاد وزارت کې شاوخوا ۳۰۰ نوي کارکوونکي ګمارل شوي ترڅو د رد شویو پناه غوښتونکو دوسیې او د بېرته ستنولو مسله بررسي کړي. دغه کارکوونکي به د داوطلبانه بېرته ستنیدنې پر موضوع هم کار وکړي

## اژه سمندر کې د یو کډوال مړینه: دوه ترکان د انساني قاچاق په تور نیول شوي دي

مهاجرنیوز



وروسته له هغه چې د اګست په ۲۳مه د یونان د سامي ټاپو په ساحلي اوبو کې یو کډوال په ډزو ووژل شو، یوناني چارواکو د چهارشنبې په ورځ وویل دوه ترکان يې د انساني قاچاق په تور نیولي دي.

یوناني چاروا‌کي وايي چې د ترکیې دوه اتباع يې چې عمرونه يې ۱۶ او ۲۴ کاله دي د انساني قاچاق په تور نیولي دي. دغه کسان وروسته له هغه نیول شوي دي چې یو ۳۹ کلن کویتی د اګست په ۲۳ اژه سمندر کې د یوه سرتېري په ډزو ووژل شو.

تېره اونۍ د یونان ساحلي ګارد د یادې پېښې په اړه د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي وو چې سمندري ځواکونو په لومړي سر کې هوايي ډزې وکړې او کله چې د کښتۍ چلوونکي د تېښتې هڅه وکړه او غوښتل يې چې په قصدي ډول له ګزمه کوونکې بېړۍ سره ټکر وکړي، نو پولیسو «د ګواښ د له منځه وړلو لپاره» د کډوالو د بېړۍ ماشین په نښه کړ. د خبرپاڼې له مخې، په دغه پېښه کې چې د سیمي ټاپو په شمال لوېديځ کې رامنځته شوه یو کډوال «احتمالاً د مرمۍ» په وسیله وژل شوی دی.

نیول شوي کسان چې اوس په توقیف ځای کې دی د چهارشنبې په ورځ (د اګست ۲۸) د رودس ټاپو محکمې ته حاضر شول او تمه ده چې د تحقیقاتو له پای ته رسېدو سره سم به محاکمه شي. قضایي سرچینو ویلي دي چې دواړه کسان پرې لګول شوي تورونه رد کړي دي.

د هغه ساحلي سرتېرى په اړه هم پلټنې پیل شوې چې د کډوالو پر کښتۍ يې ډزې کړې وې. پر نوموړي د غیرقصدي وژنې او له دلیل پرته له وسلو څخه د کار اخیستو تورونه لګول شوي دي. دغه سرتېري ویلي دي چې وروسته له هغه چې د کښتۍ چلوونکي هڅه وکړه په قصدي ډول له ګزمه کوونکي بېړۍ سره ټکر وکړي او پولیسو ژوند يې له خطر سره مخ کړ، تصمیم يې ونیوه چې ډزې وکړي.

دا هم ولولئ

<u>یوناني ځواکونو د کډوالو پر کښتۍ ډزې کړې: یو تن خپل ژوند له لاسه ورکړی دی</u>

د کډوالو په شا تمبونه

له تېرو څو کلونو راهیسې زرګونه کډوال هڅه کوي چې د اژې سمندر له لارې له ترکیې څخه ځانونه یوناني ټاپوګانو ته ورسوي. پر یوناني ځواکونو تور دی چې له کډوالو سره ناسم چلند کوي او د مهاجرو کښتۍ له خپلې پولې څخه په شا تمبوي.

بي بي سي په جون میاشت کې د یو راپور په خپرولو سره ویلي وو په تېرو درېو کلونو کې د ترکیې او یونان ترمنځ اوبو کې د یوناني چارواکو له خوا د کډوالو په شا تمبولو پېښنو په ترځ کې کې ۴۳ کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. د دغو مهاجرو له ډلې ۹ تنه يې د چارواکو له خوا سمندر ته غورځول او ډوب شوي وو.

خو یونان بیا د دغو تورونو په ردولو سره له خپل پرسونل څخه دفاع کړې او ویلي يې وو چې دوی «د خپلو نړیوالو مکلفیتونو سره سم عمل» کوي. د یوناني ساحلي ځواکونو مشر ویلي وو چې پرسونل يې «په مسلکي او مسولانه توګه خپله دنده پر مخ وړي او د انسانو ژوند او بنیادي حقونو ته درناوی کوي .«

د ملګرو ملتونو د رسمي شمېرو له مخې، د روان کال له پیل راهیسې څه باندې ۳۰ زره کډوال له ترکیې او لیبیا څخه یونان ته اوښتي دي. ډېری دغه کډوال د افغانستان، سوریې او یا د مصر وګړي دي

دا هم ولولئ

<u>څېړنه: تېرو درېو کلونو کې یوناني اوبو کې د ساحلي ځواکونو له خوا د کډوالو په شا تمبولو پر مهال ۴۳ تنه ډوب شوي</u>

## آلمان: رویکرد جدید امنیتی پس از حمله زولینگن و محدودیت های جدید برای پناهجویان

مهاجرنیوز




**پس از یک حمله مرگبار با چاقو که در شهر زولینگن رخ داد، رهبران آلمان یک رویکرد جدید اقدامات امنیتی تصویب کردند که هدف آن مبارزه با اسلام گرایی افراطی، محدودیت های بیشتر برای پناهجویان و سختگیری بیشتر در مورد حمل سلاح عنوان شده است .**

**سیاستمداران ارشد حکومت ائتلافی آلمان روز پنجشنبه برای جلوگیری از تکرار حمله با چاقو یک رویکرد جدید امنیتی را معرفی کردند. در این حمله که هفته گذشته در شهر غربی زولینگن توسط یک پناهجوی سوریایی رخ داد، سه تن جانشان را از دست دادند. اجرای حکم اخراج این پناهجو با ناکامی مواجه شده بود و او بعدا محافظت فرعی دریافت کرد.**

**پس از آن بحث راجع به قوانین مهاجرت و پناهندگی در آلمان یک بار دیگر شدت گرفت.**

**گمان می‌رود که این جوان ۲۶ ساله با گروه تروریستی «دولت اسلامی» یا (داعش) در ارتباط باشد که مسئولیت این حمله را به عهده گرفته است. اما این ادعا هنوز راستی آزمایی نشده است.**

**نانسی فیزر، وزیر داخله آلمان فدرال و مارکو بوش من، وزیر عدلیه کشور گفتند که این اقدامات برای مبارزه با اسلام گرایی افراطی، تسهیل اخراج پناهجویان رد شده و احکام سختگیرانه تر در مورد حمل سلاح طرح ریزی شده‌اند.**

**در این بسته جدید امنیتی چه آمده است؟**

فیزر که این رویکرد را در برلین معرفی می‌کرد، گفت که حمل چاقو در جشنواره های عمومی، برنامه های ورزشی و مناسبت های عمومی دیگر ممنوع می‌شود. او در ادامه از ممنوعیت «حمل چاقو» در قطارها و بس های بین شهری و ممنوعیت «حمل چاقوهای ضامن دار» خبر داد.

وزیر داخله آلمان فدرال در ادامه گفت که کمک های مالی به آن دسته از پناهجویانی قطع می‌شود که براساس قوانین دابلین باید به یک کشور دیگر اتحادیه اروپا بازگردانده شوند. البته در صورتی که آن کشور با پذیرش آن ها موافقت کند. براساس معاهده دابلین آن کشور مسئول رسیدگی به درخواست پناهندگی است که پناهجو در اتحادیه اروپا برای نخستین بار به آن جا وارد شده باشد.

افزون براین، براساس قوانین جدید، پناهجویان در صورتی که بدون یک دلیل مهم مانند خاکسپاری یکی از اعضای خانواده شان به کشورهای مبدا شان مسافرت کنند، حق محافظت شان را از دست می‌دهند. این قانون شامل پناهجویان اوکراینی نمی‌شود.

وزیر داخله آلمان فدرال در ادامه از سختگیری بیشتر در صدور مجوز حمل سلاح خبر داد تا به این وسیله از دسترسی افراط گرایان به سلاح و مواد انفجاری جلوگیری شود. افزون براین مقام های امنیتی برای مبارزه با اسلام گرایی اختیارات بیشتری دریافت می‌کنند.